اِفِسیانو 5:22-24
اَئے ښځو! دَ خپلو خاوندانو داسے تابعدارے اوسئ لکه چه دَ مالِک. ۲۳ لکه چه مسیح دَ جماعت سر دے اَؤ هغه په خپله دَ بدن بچ کوُونکے دے دغسے هر خاوند دَ ښځے سر دے. ۲٤ نو لکه څرنګ چه جماعت دَ مسیح تابع دے دغه شان دِ ښځے هم په هره خبره کښے دَ خپلو خاوندانو تابع وی.

اِفِسیانو 5:31
هم دغه وجه ده چه سړے به دَ پلار اَؤ دَ مور نه بیل شی اَؤ دَ خپلے ښځے سره به اوسیږی،اَؤ هغه دواړه به یو بدن شی.

اِفِسیانو 5:33
بهر حال په تاسو کښے دِ هم هر یو دَ خپلے ښځے سره دَ خپل ځان په شان مینه کوی،اَؤ ښځه دِ هم دَ دے خیال ساتی چه دَ خاوند عزت کوی.

1 کورنتیانو 7:3-5
خاوند دِ دَ خپلے ښځے حق پُوره کوی اَؤ دغه شان دِ ښځه دَ خپل خاوند. ٤ ښځه دَ خپل بدن واکمنه نۀ ده بلکه خاوند دے. همدغه شان خاوند دَ خپل بدن واکمن نۀ دے بلکه ښځه ده. ٥ تاسو دَ یو بل نه جُدا مه اوسیږئ خو دَ لږ وخت دَ پاره دَ یو بل په رضا دَ دے دَ پاره چه دَ دُعا فرصت ومُومئ،اَؤ بیا یو ځائے شئ،داسے نۀ وی چه دَ نفس دَ غلبے په وجه شیطان تاسو وغُلوی.

1 کورنتیانو 7:34
اَئے ورُونو! څوک چه په کُوم حالت کښے رابللے شوے وی،هغه دِ په هغه حالت کښے دَ خُدائے سره پاتے شی.

کولوسیانو 3:18
اَئے میرمنو! تاسو دَ خپلو خاوندانو تابعدارے اوسئ چه دا ستاسو دَ ایماندارانو فرض دے.

1 تیموتیوس 2:11-15 (Genesis 3:16)
ښځے دِ په خاموشئ په پُوره تابعدارئ سره زده کوی. ۱۲ اَؤ زَۀ اجازت نۀ ورکوم چه ښځے دِ تعلیم ورکړی یا دِ په خاوندانو حُکم چلوی،بلکه خاموشه دِ پاتے شی. ۱۳ ځکه چه اول آدم پیدا کړے شو دَ هغۀ نه پس حوا. ۱٤ اَؤ په آدم دوکه ونۀ شوه بلکه ښځه په دوکه کښے پریوتله اَؤ ګُناه ګاره شوه. ۱٥ خو دَ اَؤلاد په زیږدو به خلاصُون بیا مُومی،په شرط دَ دے چه هغه په ایمان،مینه اَؤ پاګیزګئ کښے سره دَ پرهیزګارئ پاتے شی.

1 پطروس 3:1-6
دَ پطروس له طرفه چه دَ عیسیٰ مسیح رسُول دے،دَ خُدائے دَ هغو غوره شوؤ مُهاجرینو په نُوم چه دَ پونطوس،ګلتیه،کپدوکیه،ایشیا اَؤ بیتونیه په صوبو کښے خوارۀ وارۀ دی، ۲ اَؤ دَ خُدائے پلار دَ ازلی اِرادے په مُطابق تاسو دَ رُوحُ القُدس په پاکولو سره دَ

عیسیٰ مسیح فرمانبردار شوئ اَؤ دَ عیسیٰ مسیح وینه ستاسو دَ پاره تویه شوه چه تاسو
پاک شئ. دَ فضل اَؤ دَ سلامتئ زیاتوالے دِ تاسو سره وی.
۳ زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح اَؤ دَ خُدائے پلار دِ ثنا وی،چه دَ عیسیٰ مسیح دَ مړو نه دَ
بیا ژوندی کولو په سبب ئے په خپل لوئے رحمت سره مُونږ دَ ژوندی اُمید دَ پاره بیا
پیدا کړُو، ٤ چه په یو نهٔ فنا کیدُونکے،بے داغه اَؤ لازواله میراث حاصل کړُو چه هغه
ستاسو دَ پاره په آسمان کښے ساتلے شوے دے. ٥ خُدائے تاسو دَ ایمان په وسیله په
خپل قُدرت سره محفُوظ ساتی دَ هغه خلاصُون دَ پاره چه په آخری وخت کښے ښکاره
کیدو ته تیار دے. ٦ دَ دے په سبب تاسو خوشحالئ کوئ اگر که اوس دَ څو ورځو دَ
پاره دَ قِسما قِسم آزمیښتُونو په سبب غم زړلی یئ.

تیطوس 2:1-5

دا خط دَ پولوس دَ طرفه دے چه دَ خُدائے غُلام اَؤ دَ عیسیٰ مسیح رسُول دے. زَهٔ دَ دے دَ
پاره مُقرر کړے شوے یم چه دَ خُدائے په غوره شوو کښے دَ ایمان دَ راوړلو وسیله
جوړ شم اَؤ دَ دینداریٔ پُوره رښتینوالی په هغوئ څرګند کړم. ۲ دَ هغه بُنیاد دَ تل
ژوندُون اُمید دے،اَؤ خُدائے چه هیڅ کله دروغ نهٔ وائی،مُونږ سره دَ هغه ژوندُون وعده
له ازل نه وکړه. ۳ اَؤ بیا خُدائے دَ خپل ټاکلی شوی وخت په مُطابق دَ خپل پیغام په
وسیله هغه ښکاره کړو. دا پیغام ما ته سپارلے شو اَؤ زَهٔ دَ خپل خلاصوُونکی خُدائے
په حُکم دا آؤرم. ٤ دا خط زَهٔ دَ تیطوس په نُوم لیکم چه ما سره په شریک ایمان کښے
زما رښتینے زوئے دے. دَ خُدائے پلار اَؤ زمُونږ دَ خلاصوُونکی مسیح عیسیٰ فضل
اَؤ سلامتی دِ په تا وی.

٥ ما په کریت کښے تهٔ دَ دے دَ پاره پریښے وے چه تهٔ پاتے شوے کار پُوره کړے اَؤ
،زما دَ حُکم په مُطابق ښار په ښار داسے مشران مُقرر کړے

1 کورنتیانو 11:5-7

اَؤ کُومه ښځه چه سرتوره دُعا یا نبُوت کوی هغه خپله بے عزتی کوی ځکه چه هغه دَ سر
خرئیلے په شان ده. ٦ که ښځه لوپټه نهٔ په سر کوی نو ویښتهٔ دِ هم پریکړی. که دَ
ښځے دَ پاره ویښتهٔ پریکول اَؤ سر خرئیل دَ شرم خبره وی نو لوپټه دِ په سر کوی. ۷
البته سړے دِ خپل سر نهٔ پټوی ځکه چه هغه دَ خُدائے صُورت اَؤ دَ هغهٔ دَ جلال عکس
دے،خو ښځه دَ سړی جلال ده.

1 کورنتیانو 11:10

نو دَ فرښتو په سبب ښځے ته په کار دی چه په خپل سر دَ اِختیار نخښه ږدی.

مِثالُونو Proverbs 12:4; 14:1; 19:13; 21:9,19; 25:24; & 27:15,16 - contentious & angry woman ښځو مِثالُونو Proverbs 31:10-31 - The Virtuous Woman ښځو .